# پښتو ډرامه " خدائي خدمتګار" : تحقيقي او تنقيدي جائزه

Dr. Javed Iqbal [1]

Dr. Zar Muhammad [2]
Dr. Nasrullah Khan [3]

## *A Critical and Research-Based Study of the Pashto Drama "Khudai Khidmatgar"*

**_Abstract:_**

*This article presents a critical and research-oriented study of the Pashto drama Khudai Khidmatgar and its significance in the early development of Pashto dramatic literature. Three Pashto plays bearing the title Khudai Khidmatgar were written by Abdul Akbar Khan Akbar, Abdul Khaliq Khaleeq, and Fazal Karim. Literary histories of Pashto literature, as well as Abdul Khaliq Khaleeq himself, acknowledge the existence of a drama authored by him under this title. However, some researchers have attributed the play discussed in this study to Khaleeq instead of Fazal Karim. Through textual, historical, and comparative evidence, this article argues that the disputed drama was in fact written by Fazal Karim.The study identifies this play as one of the earliest stage dramas in Pashto literature and an important milestone in the evolution of Pashto theatre. It further explores the socio-political background of the drama, noting that such literary works were produced by writers associated with the Khudai Khidmatgar Movement to inspire anti-colonial consciousness and support the struggle for freedom from British rule. Alongside its historical importance, the article critically examines the artistic features of the drama, particularly characterization, suspense, dialogue, and*

[1] Chairman, Department of Pashtu, Islamia College University, Peshawar
[2] Lecturer, Department of Pashtu, Islamia College University, Peshawar
[3] AP, department of Pashtu, Islamia college university, Peshawar

*dramatic structure. The study concludes that Khudai Khidmatgar occupies a significant place in the formative history of Pashto drama and represents a landmark in its literary and theatrical development.*

***Key Words: Pashto Literature, Fiction, Khudai Khimatgar Drama, Stage Drama,***

د خدائي خدمتګار په نوم د دريو ډرامه ليکونکيو تذکره زمونږ د پښتو ادب د ډرامې په تاريخ کښې مخې ته راځي ـ دغه ليکونکيو کښې عبدالاکبر خان اکبر، عبدالخالق خليق او فضل کريم نومونه شامل دي په يو عنوان دا درې ډرامه ليکونکيو نومونه دې لړ کښې يو ابهام پېدا کړے دے چې دغه درې ليکونکيو درې بيئلې بيئلې ډرامې په دغه يو عنوان ليکلې دي او که دغه ډرامو کښې يوه ډرامه د يو نه زياتو ليکونکيو نوم ته منسوب ده ـ د دې خبرې وضاحت هم ضروري دے او بيا دا هم بايد ووئيلے شي چې د " خدائي خدمتګار" په نوم دغه ډرامې د يو خاص قسم سياسي حالاتو پېداوار دے چې د انګرېز سامراج په ضد د سماجي او سياسي تحريک "خدائي خدمتګار" د سيوري لاندې نۀ يواځې د دغو ډرامو تخليق شوے دے بلکې په مجموعي توګه هم د دغه تحريک د سيوري لاندې د پښتو انقلابي شاعري، مزاحمتي ادب او په خصوصي توګه د پښتو ډرامې د خدائي خدمتګار تحريک د سيوري لاندې ډېره وده موندلې ده ـ هرکله چې د خدائي خدمتګار تحريک او د هم دغه تحريک محرک ادبي او سياسي تنظيم انجمن اصلاح الافاغنه تذکره د هېرېدلو نۀ ده ځکه دې لړ کښې وړومبے د انجمن اصلاح الافاغنه او خدائي خدمتګار تحريک پښتو ادب او پښتو ډرامې ته د بخښنو په لور اشاره کول هم ضروري دي ـ

په دې لړ کښې د نوميالي ترقي پسند دانشور سليم راز په يوې حواله اکتفا کولے شي او بيا به د دغه تحريک د سپوري لاندې ليکلے شويو ډرامو کښې د خدائي خدمتګار په نوم د ليکلے شويو ډرامو په حقله بحث کولے شي ـ ښاغلے سليم راز د خدائي خدمتګار تحريک او د پښتو ادب په مجموعي تعلق د خپلې رائې څرګندونه په دې ټکو کوي:

> "خدائي خدمتګار تحريک که هر څو يو سياسي او سماجي تحريک ؤ خو د پښتو ژبې او ادب په ترقۍ کښې ئې يو تاريخي کردار ادا کړے دے ـ نن پښتو ژبې او ادب چې د معيار او مقدار په لحاظ څومره پر مخ تګ کړے دے او د دنيا د نورو ژبو سره ئې سيالي برابره ده نو د هغې په شا د خدائي خدمتګار تحريک ډېر لوئې لاس دے ـ[1]

د خدائي خدمتګار تحریک او انجمن اصلاح الافاغنه سره تړلو لیکوالو کښي د عبدالاکبر خان اکبر او عبدالخالق خلیق نومونه د بنیادي غړو حېثیت لري او په مجموعي توګه هم د پښتو ادب او خصوصي توګه د پښتو ډرامې په مېدان کښي د عبدالاکبر خان اکبر او عبدالخالق خلیق  خدمات د هېرېدلو نهٔ دي۔ دغو نومونو سره یوه نامه د فضل کریم هم یادولے شو چې د هم دغه خدائي خدمتګار تحریک د سیوري لاندې په هم دغه نوم "خدائي خدمتګار " د عنوان لاندې د ډرامې په لیکونکیو کښې ئې ذکر راځي۔ څکه مونږ وړومبے د خدائي خدمتګار تحریک په نوم د ډرامې په حقله وضاحت کوو او بیا په هم دغو ډرامو کښي د ښاغلي فضل کریم نوم ته منسوب د " خدائي خدمتګار"ډرامې  تحقیقي او تنقیدي جائزه اخلو۔

د "خدائي خدمتګار" په نوم وړومبے د عبدالاکبر خان اکبر ډرامه مخې ته راغلې ده چې په کال ۱۹۳۰ع کښې لیکلې شوې ده او په کال ۱۹۳۸ ع کښي په کتابي شکل چاپ شوې ده ۔ د دې ډرامې په حقله عبدالاکبر خان اکبر لیکلي دي چې:

> " دا مختصره ډرامه د خدائي خدمتګار چې د ازاد هائي سکول د اتمانزو د کالیزې جلسې او د خدائي خدامتګار انو د اولیني  تولې په موقع په اتمانزو کښې په ۱۹ اپرېل ۱۹۳۰ع کښې شوې وه۔[2]

د دې ډرامې په حقله د عبدالاکبر خان اکبر دغه رائې د هم دغه ډرامې چاپ شوي شکل کښې خپلو ابتدائي خبرو کښې څرګنده کړې ده خو وروستو په خپل کتاب " د برصغیر پاک و هند په ازادی کښې د پښتنو برخه" کښي د دې ډرامې هې حقله د ځنې تضاداتو ښکار شوے دے چې پروفېسر ډاکټر زبېرحسرت ورته په دې ټکو اشاره کړې ده :

> د خدائي خدمتګار په نوم یوه ډرامه عبدالاکبر خان اکبرهم لیکلې ده چې د لیکلو کال ئې ۱۹۳۰ع اود چاپ  نېټه ئې ۱۹۳۸ع دے ۔ چې هغوي ئې خپل کتاب د" د برصغیر  د ازادی په تحریک کښې د پښتنو برخه" (زما ژوند سره تړلي واقعات) کښې ذکر کړے دے۔ دوي د خپلې بلې ډرامې " تعلیم جدید، تهذیب جدید" او "جونګړه" نومې ډرامې تذکره هم کړې ده خو دوه ځایه د تضاد ښکار شوے بربښي یو ځاے ئې لیکلي دي چې دا تولې ډرامې مې خپل دهقان له ورکړې چې سنبال ئې کړي څکه چې هر وخت به د فوج او پولیس د چاپو ویره وه نو هغهٔ په بوجی کښې واچولې او په زمکه کښې ئې ښخې کړې بیا چې زهٔ کله له

جبله راغلم نو هغه وېنو خوړلي وې ـ بل ځاے يې ليکلي دي چې دا ډرامې پوليس والو زمونږ له کوره په خانه تالاشی کښې يوړې"[3]

د عبدالاکبر خان اکبر د ذکر شوي کتاب د مطالعې نه پته لګي چې هغه يقيناً د تضاداتو ښکار شوے دے خو د چاپ ډرامې سره د ابتدائي خبرو کښې ورکړے شوي د هغۀ معلومات درست دي ځکه چې عبدالخالق خليق صاحب ئي هم تائيد کړے دے ـ البته د خليق صاحب او عبدالاکبر خان اکبر په بيانوتو کښې د ډرامې د سټېج کېدو په نېټه کښې بيا هم د يوې ورځې فرق دے عبدالاکبر خان اکبر دغه نېټه ۲۰ اپرېل ۱۹۳۰ع ښودلې ده او خليق صاحب دغه نېټه ۲۹ اپرېل ۱۹۳۰ع يادوي۔ خليق صاحب ليکي چې:

"دا ډرامه خدائي خدمتګار د خدائي خدمتګارۍ د تحريک د وړومبني کال په اوله لويه جلسه کښې کومه چې د خان عبدالاکبر خان اکبر د صدارت لاندې شوې وه په ۲۰ اپرېل ۱۹۳۰ع په سټيج شوې وه۔ په دې ډرامه کښې علاوه د شائستګۍ او د ډرامې د خصوصياتو نه يوه لويه خوبي داده چې دا د راتلونکي واقعاتو او سياسي حالاتو يوه پېشنګويي وه چې هم هغسې وشوه يا په نورو لفظونو کښې پښتون قوم دا ډرامه د دنيا په سټېج عملا وښودله"[4]

خليق صاحب په خپل منظوم کتاب " زۀ او زما زمانه" کښې د دې ډرامې او انجمن اصلاح الافاغنه د هغه جلسې چې دا ډرامه پکښې سټېج شوې وه ذکر د ۲۰،۲۱اپرېل ۱۹۳۰ع په واقعاتو کښې کوي او ليکي:

"په شلم او يو ويشتم مياشت د اپرېل
اتمانزو ته خلق راغلل ډېر په سيل
سالانه جلسه وه بيا د انجمن
ورته راغلل عالمونه د وطن
په کښې وشو قسماقسم تقريرونه
رنګارنګ هم پکښې وشو تجويزونه
د شپې وشوه ډېره ښۀ مشاعره
کل احمد صاحب ته ورکړے شوه تمغه
په سبا بيا د نمانځۀ نه پس سحر
تول خدائي خدمتګاران شو رابهر
يو فوځي پرېډ ئي وکړو ډېر د خوند

وي به ياد مي چې تر څو وي زما ژوند
د پرېډ نه پس جلوس ئي وويستلو
ښكلے بېنډ په كښې څو ځايه غږېدلو
بيا شروع شوه د جلسې كاروائي
د پبلك وشوله ښۀ راهنمائي
ورپسې وشوه ډرامه ښۀ مزيداره
ښۀ تنقيد په حكومت وشو دلداره
مظالم د حكومت په كښې بيان شول
نقائص د غلامۍ پكښې اعيان شول "5

په هر حال د ددغه ډرامې د ستېج كېدلو نېټه ۱۹ يا ۲۰ اپرېل كښې چې هره يوه وي خو دا واضحه ده چې د خدائي خدمتګار په نوم د تولو نه وړومبے د عبدالاكبر خان اكبر د ډرامې ذكر راځي ـ دې نه پس خليق صاحب پخپله په هم دغه نوم، يوه ډرامه ليكلې ده چې هغه ئې په خپل كتاب "زۀ او زما زمانه" كښې په دې توګه يادونه كړې ده:

'ما ليكلي په پښتو يوه ډرامه ده
خدائي خدمتګار ښۀ د دې نامه ده
چې مقصود مي وه تحفه و باچاخان ته
يوه ورځ كړه حواله فخرافغان ته
بلې شپې ته ادا ډرامه دوي واورېدله
مقصود جان د بنو دوي ته واوروله
تولو خوښه ادا ډرامه كړله بې شانه
ووي خان چې ډېر خوشحال شوم لۀ تانه6

عبد الخالق خليق د دغې ډرامې ذكر كولو نه علاوه دا وضاحتي نوټ هم ليكلے دے چې:

"دا ډرامه ما په ۱۹۳۰ع کښې د فخرقوم میا صاحب په خواهش لیکلې وه او د زیارت کاکاصاحب په کلي کښې خدائي خدمتګارو په سټېج ښودلې وه ـ د دې ډرامې هېرو زما کشر وررور عبدالمالک ؤ."[7]

په خپلو دغه وضاحتونو کښې خلیق صاحب د ډرامې کال ۱۹۳۰ع ښودلے دے خو میاشت او نېټه ئې نۀ ده ښودلې ـ البته په خپل نثري کتاب " د ازدئ جنګ" کښې ئې وضاحت سره وئیلي دي چې:

"ما باچاخان ته د تحفې په شکل کښې یو کتاب ورکړو دا زما د پښتو یوه ډرامه "خدائي خدمتګار"، وه ـ دا ډرامه په اګست ۱۹۳۰ع کښې خدائي خدمتګارو په زیارت کاکا صاحب کښې په سټېج ښودلې شوې وه او خلقو ډېره خوښه کړې وه. دا ډرامه د فخرقوم میا صاحب په خواهش ما لیکلې وه ـ دا ډرامه باچاخان ته د شېخ مقصود جان د بنو واوروله د باچاخان خو ډرامه هم خوښه شوه ـ خو زۀ ئې هم خوښ شوم او هم د دغه وخت نه ئې فېصله وکړه چې "پښتون" رساله که بیا جاري کېږي نو د ایډیټرے کار به دۀ ته حواله کوو. چناچه بله ورځ ئې سحر ماته خپل خواهش ظاهر کړو او ما ورسره وعده وکړه."[8]

د خدائي خدمتګار په نوم د خلیق صاحب د دغه ډرامې مسوده نۀ خو په چاپ شکل کښې دستیاب ده او نۀ په کتابي شکل کښې البته په هم دغه " خدائي خدمتګار" نوم د یوې ډرامې مسوده په کتابي شکل موجوده ده چې د فضل کریم په نوم چاپ ده د فضل کریم دغه ډرامه په وړومبي ځل په کال ۱۹۳۲ع کښې چاپ شوې ده چې په هم دغه کال انګریز سامراج ضبط کړې وه په جون 2012ع کښې دغه ډرامه یو ځل بیا د پروفېسر ډاکټرفضل رحیم مروت په اهتمام او د پروفېسر زبېرحسرت د پروف او ترتیب سره چاپ شوه چې اوس دستیاب ده ـ

د فضل کریم د دغه ډرامې په دویم ځل چاپ کېدلو او دستیاب کېدلو نه پس هم دا یوه تنازعه موجوده ده چې دغه ډرامه د فضل کریم لیکلې شوې ډرامه ده او که نۀ د فضل کریم حېثیت د دې ډرامې د پبلشر یا خورونکي ؤ. دا یو تاثر هم شته چې دغه ډرامه "خدائي خدمتګار" د خلیق هغه ورکه شوې ډرامه خو به نۀ وي د کومې چې وړاندې ذکر شوے دے ـ دغه تنازعه او شکونه د ډاکټر سهیل انشا د یو لیک نه لا زیاته وده مومي چې هغه دا تاثر ورکوي چې فضل رحیم یو خوا خو لیکوال نۀ ؤ او بل خوا هغه د دغه ډرامې د لیک په وخت په جېل کښې د یو قېدي په حېث پروت ؤ. ډاکټر سهیل انشا دې لړ کښې خپل تاثر داسې وړاندې کوي:

"دۀ سالم ۱۹۳۲ کال په جېل کښې تېر کړو او په جېل کښې به کله يو ځائې او کله بل ځائې او کله هسپتال کښې ؤ. زۀ چې کومه خبره يادوم هغه دا ده چې يو ځل ئې راته ووئيل چې ليک ډېر ګران کار دے دا ستاسو په شان دليکوال زمه داري ده چې خدائي خدمتګاران قوم ته روښانه کړئ. نو يو خو دے ليکوال نۀ ؤ او بل دا چې سالم ۱۹۳۲ کال ئې جېل کښې تېر کړي دي نو يو کس چې په نارمل حالاتو کښې يو مضمون قدر يې هم رساله کښې نۀ وي چاپ نو ډرامه به څنګه ليکي او هغه هم په داسي قسم نامساعده حالاتو کښې او دغه وجه ده چې لکه زبېرحسرت ورته اشاره کړې ده چې په دې کتاب د فضل کريم نوم د پبلشر په توګه راغلے دے. نۀ چې د ليکوال په صفت (م م۱۹، ۲۰) او د کتاب پبلشر خو هر څوک کېدے شي ولې دلته يو بل سوال راپيدا کيږي هغه دا چې دے سالم ۱۹۳۲ کښې جېل کښې ؤ نو بيا خو د دۀ نوم د پبلشر په طور هم کال ۱۹۳۲کښې سمون نۀ خوري. دا خو پکار ده چې دا کال ۱۹۳۲ کښې د ۶ مارچ نه تر ۲۵ دسمبر چاپ وي کله چې دے جېل کښې نۀ ؤ . او کنې بيا ۱۹۳۳ کښې کوم چې دے ازاد ؤ. خو که د دواړو ډرامو "درد" او خدائي خدمتګار" ليک ټائيټل مخونو ته ګورو نو د وړومبي چاپ کال ۱۹۳۲ ښودلے شوے دے او د دواړو هم په دغه کال ضبط ښودلي شوي دي ايا داسي خو نۀ ده چې دواړه دې هم په يو کال ضبط شوي وي . خو کال ۱۹۳۱ کښې نۀ چې ۱۹۳۲ کښې کله چې د درد ډرامې د ضبط کېدو کال ۷ اپريل ۱۹۳۱ دے او دا هغه موده ده چې فضل کريم ازاد ؤ او بحېثيت پبلشر ئې کتاب چاپ ته اماده کولے شو"[9]

ډاکټر سهيل انشا د دغه تاثر نه علاوه زمونږ د پښتو ډرامې او په مجموعي توګه د پښتو ادب تاريخ هم مونږ ته د فضل کريم په حقله د پښتو د يو ليکوال يا ډرامه ليکونکي په حېث کوم څرګند معلومات نۀ راکوي . د ازادی د تحريک يو اهم غړے ډاکټر وارث خان په خپل کتاب د ازادی تحريک کښې د فضل کريم ذکر کوي خو هغه هم نه فضل کريم ته د پښتو ليکوال وائي او نۀ ئي ددرامې زکر کوي . ډاکټر وارث خان خان د ۲۶ مارچ ۱۹۳۳ د واقعاتو ذکر کښې د فضل کريم يادونه داسي کوي:

> "۲۶ مارچ ۱۹۳۳ع باندې پېو ته لاړم . شپې ته فضل کريم ته لاړم فضل د تحصيل وړومبے ناظم ؤ . هري پور کښې سخت ناجوړه شو. وينه به ئې غورزوله چې د جېل والاؤ طمع ترې قطع شوه او د ژوند نه ئې نااميده شو نو ئې پرېښودلو. عجيبه غوندې ټي بي ئې وه همسا به ئې لګوله ټيټ به ګرزېدو ټوخ توخ به ئې کول دې سره به ئې سخت محنت او سياسي کار کولو واده ئې وکړو زامن،لونه او نمسي ئې دي. دے ناجوړه زۀ ناجوړه لا ژوندي يو او هغه جوړ ځوانان رانه مخکښې لاړل چې زمونږ بيمار پرسی له به راتلل. زمونږ همدرد ؤ. نۀ پوهېږم چې د الله پکښې څۀ راز ؤ ما هم په بيماری کښې واده کړے دے . بچي مي دي.

فضل کريم سره مې صلاح کوله چې څۀ پکار دي ـ فېصله مو په دې وکړه چې د اختر مېلې دې بندې کړے شي۔ د مېلو دې جلسې وشي ـ څۀ دې د مېلې نه يو ميل لرې جلوس وباسي ـ دوارۀ ځايونه ته به پوليس نۀ شي رسېدے۔ اول دې قوم ته اپيل وکړے شي ـ فضل کريم به په سائيکلو ستائيل قوم ته اپيل وليکي ـ ټول تحصيل کښې به ئې تقسيم کړو۔ دغسې ځائې په ځائې ګرځېدود پاره مو د تحريک ګرمولو کوښښ کولو دورې مو کولې کله يو کلې کښې جلسه کله بل کلي کښې ـ حکومت پاليسي بدله کړې وه ګرفتارې ئې نۀ کوله ګرفتارۍ سره جوش پيدا شي ګرفتارې نۀ وي نو جذبات سارۀ غونډې وي"10

د دغې شکونو او تنازعې باوجود چې دا ډرامه فضل رحيم مروت او ډاکټر زبېرحسرت په جون ۲۰۱۲ع کښې د باچاخان ريسرچ سنټر(باچاخان مرکز پښتونخواه) له اړخه چاپ کړه نو ورسره ځنې داسې وضاحتې خبرې هم مخې ته راغلې چې دا ډرامه د فضل رحيم ليکلې ښائي۔ وړومبے دا چې د دې ډرامې د ليکوال په حېث د فضل کريم ذکر ډاکټر حنيف خليل په خپل اردو کتاب " پشتو زبان و ادب کی تاريخ" کښې کړے دے او ډاکټر زبېرحسرت پرې تبصره کړې ده ـ دويم دا چې ډاکټر حنيف خليل د خدائي خدمتګار په نوم د يوې مسودې ذکر کړے دے چې فوټوکاپي ئې د همېش خليل نه ترلاسه شوې ده او دا هم هغه مسوده کېدے شي کومه چې د فضل کريم نوم ته منسوب ده۔ دريمه خبره دا ده چې د دې ډرامې يوه کاپي د لندن په برټش ميوزيم کښې موجوده ده چې د ليکوال په حېث پرې د فضل کريم نوم ليک دے۔ څلورمه خبره دا ده چې ډاکټر خالد خان خټک د هم دغه برټش ميوزيم فوټو کاپي د لندن نه راوړې هم ده چې ډاکټر فضل رحيم مروت او ډاکټر زبېرحسرت اوس په کتابي شکل په ۲۰۱۲ع کښې خوره کړې ده دغه ټول پس منظر دا ښائي چې د خدائي خدمتګار په نوم دغه ذکر شوې ډرامه د فضل رحيم ليکلې ډرامه ده او د دغه رائې مرسته د ځنو حوالو نه کېدے شي چې دلته ئې په مختصره توګه جاج اخلو۔ د خدائي خدمتګار په نوم دوؤ بېلو ډرامو تذکره ډاکټر حنيف خليل په خپل کتاب "پشتو زبان و ادب کی تاريخ" کښې کړې ده چې يوه پکښې د عبدالخالق خليق ډرامه ده او دويمه د فضل رحيم دغه ذکر شوې ډرامه ده ـ حنيف خليل ليکي:

"پشتو کے مطبوعہ ڈراموں میں زیادہ وہی ڈرامے شامل ہیں جو مختلف مواقع پر مختلف اوقات میں سٹیج او ریڈیو کے لئے لکھے گئے تھے، بعد میں مصنفین نے ان ڈراموں کو کتابی شکل میں بھی محفوظ کرلیا۔ مطبوعہ ڈراموں کی ابتدا ہم فضل کریم اور عبدالخالق خلیق کے دوالگ الگ ڈراموں جو"خدائی خدمتگار" کے ایک نام سے ہی سال ۱۹۳۰میں

شائع ہوئے ہیں  سے کرتے ہیں۔ ان ڈراموں میں خلیق مرحوم کا ڈرامہ اب ناپید ہے او فضل کریم کا ڈرامہ انڈین آفس لائبریری لندن میں محفوظ ہے"[11]

ډاکټر خالد خان خټک دې لړ کښې داسې لیکي!

"د پیبو د فضل کریم داډرامه " خدائي خدمتګار" په ۱۹۳۲ع کښې شائع شوې وه خو د چاپ نه سمدستي پس انګریزانو ضبط کړه۔ ځکه په دې کښې خلقو ته غږ شوے ؤ چې د باچاخان په رهنمایی کښې د انګریز خلاف راپاځي "[12]

د ډاکټر زبېرحسرت د دې ډرامې په ضمن کښې د ډاکټر حنیف خلیل او ډاکټر وارث خان ذکر کوي او ورسره د ډاکټر وارث خان په حقله هم خپله رائې څرګندوي خو د زبېرحسرت د بیان وړاندې کولو نه مخکښې دا وضاحت ضروري ګنړم چې ډاکټر وارث خان د فضل کریم ذکر د لیکوال او ډرامه لیکونکي په حېث نۀ دے کړے بلکې د یو سیاسي غړي په حېث ئې یادونه کوي او د زبېر حسرت د بیان نه داسې تاثر راولاړېږي چې ډاکټر وارث خان هم د فضل کریم د ډرامې په ضمن کښې د هغۀ تذکره کړې ده۔ د ډاکټر زبېرحسرت بیان په دې ډول دے۔

"په کال ۲۰۱۱ کښې چې ډاکټر وارث خان د لندن نه بېرته راغلو نو ځان سره ئې درې کتابونه راوړل چې دوه پکښې ډرامې وې یوه د امیر نواز جلیا "درد" بله د فضل کریم " خدائي خدمتګار" او دریم کتاب ئې د یو نا معلوم لیکونکي د قیصه خوانی د خونړی پېښې ۱۹۳۰ع واقعات ؤ۔ زمونږ دپاره دا خبره ډېره د حیرت وه چې تراوسه پورې سپوا د ډاکټر وارث خان (د رشکی نوښار) او ډاکټر حنیف خلیل نه بل هېڅ یو ادبي مورخ او تذکره نګار د فضل کریم خدائي خدمتګار د ډرامې  "خدائي خدمتګار" او د هغۀ د نامې په حېثیت د یو ډرامه نګار چرته هم څۀ تذکره نۀ وه کړې"[13]

ډاکټر زبېرحسرت په خپل هم دغۀ لیک کښې په نور وضاحت سره لیکي ۔

"د لندن په انډیا افس لائبریری کښې چې د خدائي خدمتګار په نامه کومه ډرامه پرته ده هغه په ۱۹۳۲ع کښې انګریزانو ضبط کړې وه او په هغې د فضل کریم نامه لیکلې شوې ده او د دې خبرې تصدیق نۀ یواځې ډاکټر خالد خان خټک کوي بلکې د انډیا افس لائبریری د مشرقي ژبو د څانګې مشر محمد عیسی ولي هم خپل یو خط کښې ښاغلي مذکر شاه خلیل ته لیکلي دي چې د عبدالخالق خلیق په نامه څۀ نه البته د فضل کریم په نامه لیکلې یوه ډرامه

" خدائي خدمتګار" مونږ سره موجوده ده ـ د دې خط متن ډاکټر حنيف خليل "د پښتو ژبې او ادب تاريخ" (اردو) مخونه۳۱۷ ـ۳۱۸) کښې هم ورکړے دے"[14]

ډاکټر زبير حسرت چې د ډاکټر حنيف خليل په حواله د انډيا افس لائبريرۍ د مشرقي ژبو د څانګې مشر عيسى ولي د کوم خط ذکر کوي دلته د هغې خط متن هم وړاندې کولے شي چې داخبره نوره هم واضحه شي۔ چې د خدائي خدمتګار په نوم ذکر شوي ډرامه د فضل کريم ليکلې ډرامه ده او يوه کاپي ئې په انډيا افس لائبريرۍ کښې محفوظه ده د دې خط متن دا دے۔

" Dear Mr. Khalil

I write in response to your letter of October 2nd addressed to the Director of Special Collections. Recently someone enquired by telephone about the availability of "Abdul Khaliq Khaliq's Khud-I-Khidmatgar. Initially I was unable to find any record of it, but eventually it was explained to me that it was likely to have been suppressed by the British authorities; as a result I was able to find book in our catalogue of Prescribed Indian books. There are two copies in our collection, one from the British Library's British Museum inheritance, and another from the India Office. The pressmarks are PIB 9/21and PP Pash. I respectively. In this catalogue the author is named as Fazal Karim and the publication date is given as (1930). If your intention was to find out whether the library can supply copies of the book. The answer is that we provide microfilm or photocopies from microfilm but not with direct Photocopies. To save Time." I am sending a copy of your letter and this reply to the Reprographic Services from whom you should be receiving a proforma invoice. The choice is yours as to which you would prefer.

Yours sincerely

Muhammad Isa Waley

M I Waley

Head of Persian and Turkish Collections” [15]"

پورته بحث، حوالو او سندونو نه پس مونږ د دې بحث وړومبی برخه کښې خو پر اسانه دې نتیجې ته رسو چې د عبدالاکبر خان اکبر یوه ډرامه د خدائي خدمتګار په نوم په اپریل ۱۹۳۰ع کښې لیکلې شوې وه او په کال ۱۹۳۸ع په کتابي شکل چاپ شوې چې اوس دستیاب ده۔ په هم دغه نوم د خلیق صاحب ډرامه په اګست ۱۹۳۰ع کښې لیکلې شوې او سټیج شوې ده چې اوس دستیاب نهٔ ده او په هم دغه نوم دریمه ډرامه د فضل کریم ده چې په وړومبي ځل په ۱۹۳۲ع کښې او بیا په ۲۰۱۲ع کښې چاپ شوې ده او اوس دستیاب ده ۔ په دغهٔ ډرامه د پبلشر په حېث هم د فضل کریم نوم لیکلے شوے دے او لیکونکے ئې هم د فضل کریم نه بغیر بل څوک نهٔ شي کېدے ۔ هم دغه نتیجې ته ډاکټر زبیرحسرت هم رسېدلے دے چې خپله نتیجه ئې په دې ټکو څرګنده کړې ده:

"او هم ددې صفحې اخر ته دا کرښهٔ لیکلې شوې ده چې:

(افتاب برقي پریس امرتسر نے غلام حیدر پرټرز سے چھاپا اور فضل کریم پبلشر نے پبی سے شائع کیا) نو دلته د فضل کریم صاحب نامه د پبو تحصیل(د ټپې په اساس) ضلع پېښور د جرګې د ناظم (سېکټري) په حېث او د اردو په فقره کښې د پبلشر یعني خورونکي په حېث راغلې ده نه چې د لیکونکي ۔ په هر حال چې برېټش لائبریری (اورینټل سېکشن) کښې دا ډرامه هم د دوي په نامه درج ده او د هغوي د لائبریرۍ انچارج محمد عیسی ولي، ډاکټر خالد خان خټک او ډاکټر حنیف خلیل هم وائي چې دا ډرامه فضل کریم لیکلې ده نو تر هغې به مونږ هم دا ډرامه د فضل کریم صاحب وګڼو تر څو د عبدالخالق خلیق صاحب ډرامه خدائي خدمتګار نهٔ وي پیدا شوې۔ [16]

اوس مونږ د دې بحث دویمي برخې ته راڅو او د ښاغلي فضل کریم د دغه ډرامې "خدائي خدمتګار" فني او فکري جائزه اخلو۔

**فني او فکري جاج:**

کله چې مونږ د پښتو د ابتدائي دو ر د ډرامو خبره کوو نو ورسره  په دې نتيجه هم رسو چې يو خو دغه ډرامې په عمومي توګه د سټيج دپاره ليکلې شوې ځکه چې د ريډيو او ټي وي ابلاغي وسيلې موجودې نهٔ وې ځکه د دغه ډرامو فني غوښتنې هم عموما هغه وې کومې چې د سټيج ډرامې دپاره ضروري وې، دويمه خبره دا ده چې د دغه دور په ډرامو کښې د موضوعاتو په حواله عموما د پښتنې ټولنې د سياسي او سماجي روئيو سره تعلق لرلوچې په عمومي توګه د خدائي خدمتګار تحريک د سياسي او سماجي مقاصدو د تکميل او ترسيل  وظيفه  به ئې ترسره کوله. دا هم جوته ده چې د دغه دور زيات ډرامه ليکونکي د خدائي خدمتګار تحريک فعال غړي وو نو ځکه د هغوي په وړاندې اولنی مقصد د دغه تحريک مسئلې د خپل ليک او ډرامو په ذريعه وړاندې کول ؤ او بيا په دغو ډرامو کښې د عبدالاکبر خان اکبر، عبدالخالق خليق او ښاغلي فضل کريم ذکر شوې درې ډرامې خو نيغ په نيغه د "خدائي خدمتګار تحريک" په عنوان ليکلې شوې او سټيج شوې وې نوځکه ئې نيغ په نيغه بنيادي موضوع د خدائي خدمتګار تحريک او سياسي موقف او د پښتنو سياسي او سماجي مسئلې راوړاندې کول ؤ. د سټيج دپاره دغه ليکلې شوې ډرامې وروستو په کتابي شکل هم چاپ شوې دي چې چې ځنې پکښې دستياب نهٔ دي خؤ زياتې ترلاسه کېدے شي . د مذکوره سټيج ډرامو او بيا په کتابي شکل دستيابو ډرامو د مجموعي موضوعاتو په حقله  حنيف خليل صحيح ليکلي دي چې:

"مزکورہ تمام ڈرمے سٹیج کے لئے لکھے  گئے تھے مگر کچھ شائع بھی ہوئے ہیں جن پر  مطبوعہ ڈراموں میں تبصرہ کیا جائے گا۔ ان ڈرامو ں میں پشتون سیاست،خدائی خدمتگار تحریک  کےمسائل، انگریز حکمرانوں کے مظالم اور غلط پالیسیوں، پشتونوں کی مظلومیت، سماجی ناہمواریوں اور دیگر معاشرتی و سیاسی مسائل کو موضوع بنایا گیا تھا۔"[17]

د خدائي خدمتګار تحريک د سپوري لاندې د پښتون اولس د ياد شوو سماجي او سياسي مسئلو د ترجمانۍ په لړ کښې د فضل کريم دغه ډرامه " خدائي خدمتګار" هم خپل کردار ادا کړے دے . د دې ډرامې مهتمم ( چاپونکي)ډاکټر فضل رحيم مروت په خپلو خبرو کښې د ډرامې په بنيادي موضوع خپله رائې داسې څرګنده کړې ده .

"زما په خيال له دې ډرامې ځنې به دومره اندازه خو لوستونکو ته وشي چې پيرنګي په زمانه کښې زمونږ پښتنو دپاره د هغوي قانون څومره سخت او زړه دردونکے ؤ. فضل کريم کاکا د پېبو په خپله دې ډرامه کښې دغه  ټول ښيزونه په ګوته کړي دي او نهٔ يواځې ئې

د خپلې زمانې د زمکني حقيقتونو د څرګندولو په غرض کردارونه تخليق کړي دي بلکې
ډېرې خپلې مکالمې او د نظمونو ډېر ښهٔ انتخاب ئې هم کړے دے۔"[18]

د ډرامې دغه بنيادي موضوع چې د ډرامې د فني تکنيک په کومه پيرايه کښې وړاندې کړے شوي ده هغه هم په خپل ځائې ډېر اهميت لري ۔ لکه چې وړاندې ذکر شوے دے چې د سټيج ډرامې خپلې فني غوښتنې وي چې د يو ليکونکي د فني ګرفت ثبوت ورکوي ځکه چې ليکونکے خپل مجموعي تاثر نيغ په نيغه په يوه داسې فضا کښې ورکوي لکه چې هغه ګڼ شمېر کېمرو سره هم مخامخ وي او بيا يوائې د اواز او حرکاتو په ذريعه خپل مجموعي پيغام هم نيغ په نيغه په حاضر،اوموجوده موقع رسول و ي۔ د کتونکي هره سترګه يوه بيله کېمره وي او د اورېدونکي غوږونه په هم دغه موقع د ليکونکي تاثر د فنکار او اداکار د غږ او حرکاتو په ذريعه اخلي چې ډېر ګران کار دے خو مونږ چې د ښاغلي فضل کريم دغه ډرامه په کتابي شکل لولو نو راته جوتيږي چې هغه په خپل دور کښې د پښتو سټيج ډرامې ټولې بنيادي غوښتنې هم پوره کړې دي او د يو پوهه زيرک او لوستي ډرامه نګار په حېث هم مخې ته راغلے دے ۔ د دې ډرامې مرکزي کردار د يو نامعلومه خدائي خدمتګار (رساله) چې هغه د مکالمو په ذريعه هم د شعر و شاعرى په وسيله هم او د يو لوستي او باخبره مقرر په حېث هم خپل پيغام وړاندې کوي۔ فضل کريم د دغه کردار په زړهٔ او ذهن کښې چې په کومه طريقه اچولے دے او د دغه کرادار په ژبه ئې په کومه پيرايه کښې د خپلې ډرامې بنيادي پيغام رسولے دے هغه ډېر د ستائنې وړ دے ۔

دا ډرامه ټوله په اوو منظرونو(سينز) باندې مشتمله ده چې پکښې ځنې منظرونو کښې ډېرې اوږدې مکالمې هم شته ډرامه کښې کردارونه کم دي او مکالمې اوږدې دي چې د هغه دور د سټيج فني غوښتنه وه۔ زياتې مکالمې د مرکزي کردار " خدائي خدمتګار" د خولې نه ادا کړے شوي دي چې کله کله پکښې په يو وخت ګڼ شمېر شعرونه هم ادا کولے شي۔ د ډرامې وړومبے منظر(سين)کښې مرکزي کردار خدائي خدمتګار ګڼ شمېر کښې شعرونه وائي او بيا يوه دومره اوږده مکالمه ادا کوي چې پوره تقرير معلومېږي چې د ډرامې د مکالماتي انداز يوه فني خامي هم محسوسيږي خو وروستو منظرونو کښې دغه مکالماتي انداز بيا د سټيج ډرامې د فني غوښتنو مطابق په درسته طريقه مخ په وړاندې ځي۔ د دغه مزکري کردار د مکالمې په ذريعه دا تاثر هم ورکړے شوے دے چې دغه خدائي خدمتګار يو لوستے او پوهه وګړے دے چې د انګرېز سامراج د جابرانه روئيو ښکار شوے دے دغسې دغه خدائي خدمتګار د ډرامې د نورو کردارونو په زريعه په خوره او کردار د مزاج مطابق مناسبه ژبه کښې د ډرامې په نورو کردارونو کښې د سالدار، مجسټريټ، خان بهادر، د خان بهادر زوے، د خان بهادر نوکر، يوداروغه،يو کلرک او نورو خدائي خدمتګارو مجموعي

کردارونه مخې ته راځي چې د ډرامې د تهيم مطابق د خپلو نفسياتو او ژبې سره سمون لرونکو مکالمو په ذريعه قيصه مخ په وړاندې ځي. د کردار نګارئ، ژبې، تهيم او پلاټ، قيصې، مجموعي تاثر او انجام دغه فني توکي دي چې د فضل کريم په دغه ډرامې ته ئې د فن له لوري هم ډېر زيات اهميت وربخښلے دے. د دې ډرامې په حقله په خپلو ابتدائي خبرو او معروضاتو کښې ډاکټر خالد خآن خټک، فضل رحيم مروت او ډاکټر زبېرحسرت هم ځنې اشارې کړې دي چې د ډرامې فني غوښتنو، فن او تکنيک او په مجموعي توګه د ډرامه نګار فضل کريم د ډرامې په فني ګرفت لرلو څرګندونه ترې کېږي ډاکټر خالد خان خټک ليکلي دي چې:

"د فضل کريم دا ډرامه ډېره روانه او ادبي ژبه لري د اردو د شعرونو او انګريزئ ډائيلاګ دا ښائي چې فضل کريم يو اعلی تعليم يافته کس او د ازادئ د تحريک کلک ملګرے ؤ" [19]

ډاکټر زبېرحسرت هم د فضل کريم د پوهې او د ډرامې په فن د پوهېدلو خبره کوي او ليکي:

د فضل کريم د دې ډرامې "خدائي خدمتګار" نه اندازه لګي چې هغه د ډرامې په فن پوهه او د نظرئيې سره پوخ تړلے ؤ بلکې د پښتو نه علاوه د اردو او انګريزئ هم ډېر ښهٔ ماهر ؤ د ډرامې په سر کښې هيرو ځان سره د شوي بدسلوکی په صورت کښې مونږ ته د ملک غلامي راښائي د خپلو مکالمو په ذريعه هم او د شاعرانو د اشعارو په ذريعه هم ډرامه کښې کردار د تقاضې مطابق د مکالمو نه علاوه لکه د انګريزئ د شيکسپئر او د اردو د اغا حشرکشميري په شان ځائې په ځائې نظمونه هم يوه ډېره بليغه استعاره ده چې پکښې د عبدالخالق خان خليق، عبدالاکبرخان اکبر، خادم محمد اکبر، س، ب، ب نظمونه شامل دي. د ډرامې هيرو خدائي خدمتګار بې نومه دے او په ډرامه کښې د سالار په نامه ياد شوے دے . دغسې خان بهادر چې نهٔ صرف مقامي طور د استحصال او تعصب نه ډک دے چې د انګريز بادار وفادار او کاسه ليس دے خو کمال دا دے چې زوے حبيب الله ئې د وخت په تقاضو پوهه دے او هغه هم د خدائي خدمتګار تحريک يو غړے معلوميږي او دا د هغه وخت د تعليم رڼا ده چې ډېرې ناوړې عقيدې او نظرئې ړنګوي"[20]

لکه چې وړاندې ذکر وشو چې د دې ډرامې مکالمې او منظرونه دومره اوږدهٔ دي چې مثال او نمونه ئې وړاندې کول د بيان طوالت سبب جوړيږي خو بيا هم دلته د ډرامې د پينځم منظر(سين) يوه نمونه په دې غرض وړاندې کولے شي چې د ډرامې د مکالمې،ژبې، کردارنګارئ د ډرامه نګارئ د فني ګرفت او بيا په

دې ډرامه کښې د انګرېزۍ د مکالمو د ضرورت او مزاج اندازه هم وشي۔ د پينځم منظر وړمبۍ برخه په دې ډول ده:

(مجسټرېټ په کرسۍ ناست دے، تهانه دار سالار په هتکړو کښې پيش کوي)

مجسټرېټ: ښۀ! هغه تۀ ئې چې زما په علاقه کښې دې بدامني پيدا کړې ده؟

سالار: نۀ صاحب! زۀ هغه خدائي خدمتګار يم چې د يو قوم د خادم په حېث د يو قوم د مينځ نه بدامني ويستل غواړم

مجسټرېټ: تا ولې جامې سرې کړې دي او خلقو ته وائې چې جامې سرې کړئ؟

سالار: صاحب د جامو رنګول څۀ جرم نۀ دے قانون مذهب او رواج پرې څۀ پابندي لګولې نۀ ده

مجسټرېټ: مګر د جامو دا يو قسم رنګ يو باغيانه سازش معلومېږي

سالار: جناب که چرې د جامو يو قسم رنګ د بغاوت علامه وي نو ستا پوليس هم يو رنګ جامه استعمالوي شايد دوي به هم د بغاوت سازش کړے وي۔

مجسټرېټ: نا! دا غلطه ده پوليس امن قائموي۔

سالار: هم دغسې زمونږ د سرو جامو زلمي هم خلق ناکاره کارونو نه منع کوي او امن قائموي"[21]

د دغه منظر د مکالمو نه يوخوا د ډرامې د بنيادي تهيم او موضوع وضاحت کيږي او بل خوا د ډرامه نګار د مکالماتي انداز او د هغه ژبې چې د کردار د مزاج او نفسياتو مطابق د کردار د خولې نه ادا شوې ده د هم دغه پينځم منظر په وروستۍ برخه کښې چې د مجسټرېټ د خولې نه د غصې تاثر په انګرېزي ژبه کښې ادا کولے شي نو ډرامه نګار خپل مرکزي کردار "خدائي خدمتګار"چې په يو ډرامه کښې د سالار په نوم ياد شوے دے هم يو پوهه او د اعلیٰ تعليم يافته کردار ښائي او د هغۀ په ژبه مجسټرېټ ته په انګرېزۍ ژبه کښې خپل تاثر څرګندوي چې يو خوا د کردار نفسيات څرګندوي او بل خوا دا هم ښائي چې ډرامه نګار فضل کريم په خپله هم يو لوستے او يو پوهه ليکونکے ؤ چې خپل کردار ته ئې دغسې ژبه ورکړه د انګرېز مجسټرېټ او خدائي خدمتګار(سالار) مکالمه په انګرېزۍ کښې داسې ده:

" (مجسټرېټ مخ بل خوا ته اړوي او په تریو تندي په انګلش ژبان کښې وائي)

Magistrate: What a wild and barbarous people thou are?

ترجمه: څۀ په اځنګلي ځناورو اوړېدلے یم؟

سالار دخدائي خدمتګارو په ډېر جوش سره په انګلش کښې جواب ورکوي)(

Salaar:

No Sir. I beg to differ. We are neither wild nor uncivilized. It is only due to this presence that we have been driven to these depths of degradation. Our history stands as an irrefutable and unmistakable testimony of our past glory and prosperity. We were the TORCH BEARER of knowledge, civilization and social reforms.Our revered Prophet of the desert (May peace be upon him) taught the whole world the lesson of democracy after which Europe is still groping darkly. The western world in particular is indebted to Islam [22]"

دغه مکالمه کښې مونږ وکتل چې لیکونکے فضل کریم مجسټرټ سره سالار مکالمه په انګرېزۍ کښې څکه وړاندې کړې ده چې د یوخوا خو مجسټریټ اعلٰی تعلیم یافته کردار دے نو ژبه به ئې هم د مزاج او نفسیاتو مطابق وي ـ بل خوا مجسټرېټ د انګرېز سامراج نمائنده دے نو ځنې مکالمې ئې هم په انګرېزۍ کښې دي په عدالت کښې د دغه تکرار نه پس مجسټریټ (سالار) خدائي خدمتګار ته د دریوکالو د قېد سزا ورکوي او دغسې سالار چې جېل ته لاړ شي نو بیا په جېل کښې د قېدیانو،جمعدار او داروغه سره ئې مکالمې د هغه ماحول او نفسیاتو مطابق وي چې مونږ ته د ډرامه نګار فضل کریم د اعلٰی کردار نګارۍ ثبوت راکوي ـ د اووم منظر په یوه مکالمه کښې د جمیل داروغه یو داسې پنجابۍ دے چې ګډه وډه پښتو هم ورځي نو لیکونکي فضل کریم د دغه داروغه جمعدار او خدائي خدمتګار ترمینځه مکالمه هم د ژبې او نفسیاتو مطابق په ډېره فطري توګه ښائي د دغه مکالمې یوه نمونه په دې ډول ده.

" (په دې کښې داروغه د جیل راځي او په سختو الفاظو کښې سالار ته په پنجابۍ پښتو کښې وائي)

د جېل داروغۀ ته اوسه پورې اووۀ اتو سېره دانه نۀ اوړۀ کړي دي؟ وايه نو دې ته به په څو وقت پورې خلاص به اوکي؟

قېدي سالار: (په حېرت ناکه لهجه کښې)تۀ ولې غم کوې تۀ په خپل وخت کار غواړه۔

داروغه:(په قهر سره) چپ بکواس مې کوه خلافتي جوړ شوي دي فېرنګيانو نه باچائي واخلې، زرزر کار کوه۔

(داروغه ځي او جمعه دار راځي او سالار ته وائي)

جمعدار: ګوره ما تاته ابله ورځ وئيلي وو چې زمونږ داروغه صاحب ډېر ښۀ سړے دے تۀ ده سره څۀ وخت ووينه تا سره به ډېر رعايت وکړي۔

سالار:جمعه دار صاحب ما سره به څۀ رعايت وکړي؟

جمعدار: ګوره بهائي! په جېل کښې څوک مشقت نه نۀ خلاصېږي که تا ابله ورځ زما منلې وې نو نن به دې لاسونو نه وينې نۀ بهېدلې نن ضرور داروغه صاحب سره ووينه او څۀ شے ورکړه بيا مزې کوه مشقت نه به خلاص شې۔

سالار: ښۀ پوهه شوم ستا مطلب دا دے چې رشوت ورکړم خو جمعدار صاحب تاته دا نۀ ده معلومه چې رشوت اخيستل او ورکول دواړه ګناه ده رشوت دې هغه څوک ورکوي چې ورور تربور ئې وژلے وي۔ غلا کښې قېد شوے وي يا بل څه اخلاقي جرم ئې کړے وي زۀ ولې رشوت ورکړم؟ زۀ قېد په نامردۍ نۀ ورکوم چې هدو د جېل نه ووځم؟"[23]

د ډرامې د دغو څو مکالمو د نومونو نه په څرګند ډول اندازه کېږي چې په پښتو کښې د ډرامې ليکلو بيخي په ابتدائي دور کښې فضل کريم په دغه ډرامه خدائي خدمتګار کښې د ډرامې د کرداري خصوصياتو هم خيال ساتلے دے ، دکردار د مزاج او نفسياتو مطابق د ژبې په استعمال هم پوهه دے او په دې طريقه د خپلې ډرامې بنيادي موضوع مخ په وړاندې بوتللو په فن هم خبر دے۔ دې نه علاوه چې مونږ د فضل کريم په دغه ډرامه کښې نورو فني توکو ته ګورو نو په دې نتيجه رسو چې د ډېر اختصار باوجود ليکونکي په خپله ډرامه کښې تلوسه(suspense) هم ساتلي ده او د ډرامې انجام ئې هم په ډېر زړۀ راښکونکي انداز کښې

کړے دے. حال دا دے چې په افسانوي ادب کښې د تلوسې برقرار ساتل په هغه صورت کښې اسان وي چې لیک طویل وي دا ډرامه صرف په اوو منظرونو مشتمله ده خو بیاهم د ډرامې رغاونه(جوړښت) داسې شوې ده چې هم ئې پلاټ چست دے او هم ئې تلوسه او د تلوسې په بنیاد

د عروج نکته (کلائمکس) ډېر زړۀ راښکون لرې. په افسانوي ادب کښې هم دغه د لیکونکي فني حربه وي چې لوستونکي، کتونکي یا اورېدونکي په هره لمحه ځان سره وساتي او تلوسه ئې د انجام پورې برقرار وساتي او په اخر کښې یو داسې ژوندے پیغام ورکړي چې لوستونکي د ډرامې، ناول یا افسانې د اختتام نه پس هم په سوچ او فکر مجبوره کړي. د ښاغلي فضل کریم د ډرامې خدائي خدمتګار د لوستلو نه پس دغه تولې فني خوبۍ په اسانه محسوس کېدے شي او په نظر راتلے شي ځکه مونږ دغه ډرامې ته د پښتو افسانوي ادب او بیا په خصوصي توګه د پښتو ډرامې په ارتقائي سفر کښې د یو مضبوط بنیاد بلکې سنګ میل حېثیت ورکولے شو.

---

[1]راز،سلیم، خدائي خدمتګار،تحریک او پښتو ادب،مشموله اووۀ ورځنےپښتو(مجله)،۱۵ فروري۱۹۹۹ع،مخ:۱۸

[2] اکبر،عبدالاکبرخان، خدائي خدمتګار،(ډرامه)، سرحدالیکټرانکس،پرېس پېښور،جون۱۹۳۷ع،مخ:۲

[3]حسرت،محمد زبېر،ډاکټر، د پښتو ډرامې تاریخي ارتقا،مشموله، تماشې، د اماراتو پښتو ادبي تولنه وبۍ،اکتوبر۲۰۱۴،مخ:۱۱،۱۲

[4] اکبر،عبدالاکبر خآن، خدائي خدمتګار،(ډرامه بحواله بالا)مخ:۶،۷

[5] خیلق، عبدالخالق، زۀ او زما زمانه،اداره اشاعت سرحد پېښور،۱۹۶۸،مخ:۶۲،۶۳

[6] اهمدغه، مخ:۷۳،۷۴

[7] همدغ، مخ: ۷۳

[8] خلیق، عبدالخالق، دازادئ جنګ، اداره اشاعت سرحد پېښور،۱۹۷۲،مخ:۱۰۱

[9] انشا،میاسهیل،ډاکټر، د درد اوخدائي خدمتګار ډرامو په حقله تاریخي تېروتنې مشموله تکتو،(مجله) پښتو څانګه بلوچستان پوهنتون، جولائي،دسمبر۲۰۱۲ع،مخ۱۳،۱۴

[10] وارث خان، ډاکټر، د ازادئ جنګ، چاپ،جون۱۹۸۸،مخ:۱۴۸،۱۴۹

[11] خیلي،حنیف،پشتو زبان و ادب کي تاریخ، یونیورسټي پنلیشر،پشاور،اګست۲۰۰۹، مخ:۳۱۷

[12] خټک، خالد خآن، ډاکټر،دا ډرامه خدائي خدمتګار،مشموله، خدائي خدمتګار،(ډرامه)باچاخان مرکز پېښور، پښتونخوا، جون۲۰۱۲،مخ:۶

[13] حسرت، محمد زبېر، ډاکټر، د خدائي خدمتګار فض کریم(ډرامه) (بحواله بالا)مخ: ۱۲

[14] همدغه، ممخ: ۱۷

[15] خیلي،حنیف،پشتو زبان و ادب کي تاریخ،(بحواله باله)، مخ: ۳۴۸،۳۴۷

[16] حسرت، مځمد زبېر، ډاکټر،خدائي خدمتګار(ډرامه) (بحواله باله)مخ:۱۹،۲۰

[17] خیلي،حنیف،پشتو زبان و ادب کي تاریخ،(بحواله بالا)، مخ: ۳۱۰

[18] مروت، فضل رحیم، پروفېسر، ډاکټر، خدائي خدمتګار د خپل وخت په ائینه کښې، مشموله خدائي خدمتګار(ډرامه)، (بحواله باله)مخ:۱۰

[19] خټک، خالد خآن، ډاکټر،دا ډرامه خدائي خدمتګار،مشموله، خدائي خدمتګار،(ډرامه)، (بحواله باله)، مخ:۶

[20] حسرت، محمد زبېر، ډاکټر، د خدائي خدمتګار فض کریم ډرامه خدائي خدمتګار، مشموله، خدائي خدمتګار،(ډرامه)، (بحواله بالا)مخ:۲۱

[21] فضل کریم، خدائي خدمتګار، (ډرامه)، (بحواله باله)، مخ:۵۳

[22] همدغه، مخ: ۵۷،۵۸

[23] همدغه، مخ:۶۳،۶۴